# او ويلي يې دي چې: «خير پکې نشته، بلکې د بخيل نه پرې (يو څه) راوځي

له ابن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم له نذر څخه منع فرمايلې او ويلي يې دي چې: «خير پکې نشته، بلکې د بخيل نه پرې (يو څه) راوځي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له نذر څخه منع فرمايلي ده؛ چې انسان پر ځان داسې يو څه واجب کړي چې شريعت پرې نه دى ملزم کړى، او فرمايلي يې دي چې نذر هېڅ شى نه مخکې کوي او نه يې وروسته کوي، بلکې يوازې د هغه بخيل انسان څخه پرې يو څه راوځي چې يوازې ځان پر واجباتو ملزم بولي، او نذر هېڅ داسې کوم کار نه شي کولى چې نذر کوونکي ته مقدر شوى نه وي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/2960